# حقوق والدین



خداوند سبحانه وتعالی امر عظیمی را بر عهده ی ما گذاشته، ولی ما به صورت درست آنرا عملی نمی کنیم!

احمد صیام رؤوفی

خداوند سبحانه وتعالی در جا های متعدی از قرآن به اهتمام حقوق والدین اشاره کرده است . امام قرطبی فرموده؛ که «خداوند حسن سلوک و احترام والدین را با عبادت خود وصل نموده »... برای ما لازم است تا آخرین توان به اهتمام حقوق ایشان بپردازیم . احادیثی با سند قوی را در رابطه به حقوق والدین از تفسیر معارف القرآن جمع آوری کردم خواستم شما عزیزان را نیز از این امر مهم با خبر بسازم ه رچند شیطان بسیاری از انسان های خوب را از این طریق فریب داده است، و در احترام به والدین کوتاهی می کنند خداوند سبحانه وتعالی نجات بدهد و این را سبب بگرداند تا بتوانیم خدا را راضی بسازیم و بالاتر از توان ما خدمت و احترام شان را بکنیم.

* حدیثی به روایت حضرت علی رضی الله عنه آمده است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود : اگر در ایذا رسانی از کلمه (الف) کلمهء پایین تری وجود می داشت یقیناً آن هم ذکر می شد، حاضل آن که هرچه نسبت به والدین کوچکترین ناراحتی ایجاد کند، آن هم ممنوع است. (به والدین باید اُف نگویم)

* از حضرت ابوالدرداء مروی است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : «پدر، دروازهء وسطی جنت است لذا شما اختیار دارید که آن را حفظ نمایید یا ضایع گردانید»

* حضرت عبدالله بن عمر مروی است که سول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : رضای خدا در رضای پدر است و ناخشنودی خداوند در نارضایتی پدر است.

* ابن ماجه به روایت حضرت ابومامه نقل کرده است که : کسی از رسول خدا صلی الله علیه وسلم سؤال کرد: والدین بر اولاد چه حقی دارند؟ آن جناب صلی الله علیه وسلم فرمود: آن دو، جنت یا دوزخ تو می باشند، با این مطلب که اطاعت و خدمت آ نها آدمی را به جنت و بی ادبی و نارضایتی آنها به دوزخ می رساند.

* بیهقی به روایت حضرت ابن عباس نقل کرده است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : «هر پسر فرمانبرداری که بر والدین، با دیده رحمت و شفقت بنگرد، در عوض هر نگاه ثواب یک حج مقبول به او می رسد ، مردم عرض کردند : حتی اگر در روزی صد بار نگاه کند، آن جناب صلی الله علیه وسلم فرمود: آری اگر صد مرتبه هم نگاه کند، باز هر نظر همین ثواب به او می رسد، خداوند (ج) بزرگ است در خزانه او کسری وجود ندارد، بر حق کشی والدین قبل از آخرت، در دنیا هم مجازات مقرر می گوددد.

* در صحیح بخاری آمده است : کسی از رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسید محبوترین عمل نزد خداوند کدام است، فرمود: حسن سلوک با والدین.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : هر کسی که بخاطر خدا مطیع والدین باشد، برای او، دو در از بهشت باز می شود، و هر کس که نافرمان آنها باشد برای او دو در از دوزخ باز می شود، اگر از مادر و پدر یکی باشد پس یک در از جنت یا جهنم باز می شود، کسی سؤال کرد آیا در این صورت وعید جهنم هم وجود دارد که والدین برآن شخص ظلم کرده اند؟ آن جناب صلی الله علیه وسلم تا سه مرتبه فرمود: «وان ظلما و ان ظلما و ان ظلما » یعنی بر نافرمانی و ایذار رسانی والدین وعید جهنم آمده است، اگرچه آنها بر فرزندش ظلم کرده باشند ،حاصل آن اینکه اولاد حق انتقام از والدین را ندارددند، که چون آنها ظلم کرده اند او از خدمت و اطاعت آنها دست بردارد.

* به روایت ابوبکر صدیق رضی الله عنه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است : مجازات بقیه گناهان را خدا از هر که بخواهد تا قیامت به تأخیر می اندازد مگر حق کشی و نافرمانی والدین که مجازات آن قبل از آخرت در دنیا هم به آدمی می رسد.

خواننده عزیز! خداوند در قرآن گفته است؛ که به مادر و پدر(اُف) نگو، بایشان سخن نکو بگو، شانه (بال ات) را برایشان پائین کن. خلاصهء کلام اینکه باید بالاتر از حد وتوان خدمت ایشان را کنیم، حتی اگر پدرو مادری کافر میباشد باید با ایشان رویه ی اسلامی صورت گیرد . ولی متأسفانه دراین زمان کسی توجه به گفته های خدا و ر سول ندارد، با مادر و پدر قسمی رفتار می کنند، گویا که ایشان مزدور اند. آیا فراموش کرده اند که همین مادر 9 ماه او را در شکم خود نگهداشته از وجود خود او را تغذیه کرده، و چه شب هایی والدین (پدرومادر) بیدار نشستند تا طفل شان را خاموش بسازند . پدر در بیرون

از خانه چه زحماتی را متحمل شده تا یک لقمه نان پیدا کند ... بلاخره نتیجه اش این است که با والدین چنین رفتاری شود؟ آیا والدین به همین خاطر اولاد را کلان کرده که اگر روزی ناتوان شوند ایشان را از خانه بکشند؟ آیا ناتوانی خود را فراموش کرده بودند؟ چه کسی می تواند 9 ماه تو را در شکم خود نگهدارد؟ بجز از مادر ! وقتی که اولاد ها عروسی کرده علیحده می شوند از بودن مادر در خانه دل تنگ می شوند. این چه دینی است که مردم در پیش گرفته اند . در فرهنگ اسلامی همچون رفتارهای زشتی که بعضی (جهلا) ها با والدین انجام می دهند ما نداریم، به هر صورت خداوند به همه ی ما وشما عزیزان توفیق بدهد تا خدمت والدین را به وجه احسن انجام بدهیم مضمون را در همین جا خاتمه می دهیم موفق و کامگار باشید.

## څلويښت ژباړل شوي نبوي صلى الله عليه وسلم حديثونه

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې : څوك هم زما څلويښت داسې حديثونه ياد كړي چې دهغه په ديني چارو كې په كارراشي نو هغه به عالم ګڼل كيږي , له شهيدانو سره به راپورته كول كيږي ,دقيامت په ورځ به زه پخپله دهغه دايمانداری شاهد يم , او دهغه سفارش به كوم , اوورته ويل كيږي به چې : دجنت له كومې دروازې وغواړي نو جنت ته تلای شې .
پدې حديثونو كې لاندې موضوعګانې خيړل شوي :

1- دځان او كالو پاكي .............2-دوخت ساتنه
.....................3-سادګي غوره كړئ
4 -بسينه غوښتل .........................5-دګاونډي حقونه.................6 - حلاله ګټه
7-ښندنه اوقرباني.........................8-
استقلال.............................9- يووالي
10-دكيني بدوالي.......11--له مور پلار سره چلند.......12-له خپلوانو سره چلند

## 1- دځان او کالو پاکي :

1-الطهور شطر الايمان . (مسلم)
ژباړه :پاك صاف ګرځيدل نيمايي ايمان دي .
2-غسل يوم الجمعة واجب على كل محتلم وان يستن وان يمس طيبا . (بخاري)
ژباړه :دجُمعې په ورځ لامبل دهر ځوان لپاره اړين دي, هغه ته ښايي چې غاښونه په مسواك پاك كړي او خوشبويي ولګوي .

## 2- دوخت ساتنه :

3-الصلوة على وقتها (بخاري )
ژباړه :پخپل مهال لمونځ كول (الله تعالى ته ترټولو كارونو غوره دى )
4- صل الصلوة لوقتها (مسلم)
ژباړه : لمونځ په خپل وخت ادا كوه .
5-الصلوة اذا اتت , والجنازة اذا حضرت ,والايم اذا حضرت لها كفوا . (ترمذي )
ژباړه : (پدې دريو كارونو كې هيڅكله ځنډ كول نه دي پكار ) لمونځ چې وخت يې راشي ,جنازه چې مخې ته موجوده وي , او دكونډې نكاح كله چې هغې ته خاوند پيداشي .
6-يعمل بنفسه فينفع نفسه ويتصدق (بخاري )
ژباړه : (په سړي باندې لازمه ده چې) چې دخپلو متو په زور ځانته ګټه وروړسوي او صدقه وركړي .
7-ما اكل احد طعاما خيرا من ان يأكل من عمله وان النبي الله داود كان يأكل من عمل يده (بخاري )

ژباړه : څوك چې دخپلو متو په زور كار كوي او خوراك برابروي او خوري يې نو تر هغه ښه خوراك نشته ,او دالله تعالى نبي حضرت داود عليه السلام به دخپل لاس ګټه خوړله .

### 3- سادګي غوره كړئ :

8-من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الآخرة (بخاري )
ژباړه :څوك چې په نړۍ كې وريښم واغوندي نو هغه ته به دآخيرت په ورځ نه وراغوستل كيږي .
9-البسوا ثياب البيض فانها اطهر واطيب (ترمذي)
ژباړه :سپين كالي اغوندئ ځكه چې هغه خورا ښې او پاكې وي .
10-من لبس شُهرة في الدنيا البسه الله ثوب مذلة يوم القيامة (ترمذي)
ژباړه :كه چا دشُهرت په بڼه كوم كالي واغوستل , نو دقيامت په ورځ به الله تعالى هغه ته دذلت او رُسوايي كالي وراغوندي .

### 4-بسپنه غوښتل :

11-اليد العليا خير من يدالسفلى ,اليد العليا هي المنفقة السفلى هي السائلة (بخاري)
ژباړه :پورتنى لاس تر لانديني لاس غوره وي ,پورتنى لاس خرڅ كوونكى او لاندينى لاس بسپنه غوښتونكى وي .
12-والذي نفسي بيده لان يأخذ احدكم احبله فيحتطب على ظهره خير له من ان يأتي رجلا فيسأله اعطاه او منعه (بخاري )
ژباړه : په هغه ذات لوړه دچا په واك كې چې زما روح ده كه يو سړى رسۍ واخلي او دلرګيو بار پخپله شا راوړي دا غوره دى تر هغه چا چې له بل نه بسپنه غواړي نو كه دهغه زړه وغواړي نو

ورکوي يي او که يي ونه غواړي نو نه يي ورکوي .
13- لا تسألواالناس شيئا (بخاري )
ژباړه :تاسې به له هيچا نه بسپنه نه غواړئ (دادبيعت يو شرط وو ) .

### 5-دګاونډي حقوق :

14-لا يمنع جار جاره ان يغرزخشبه في جداره (بخاري)
ژباړه : هيڅ ګاونډی دې بل ګاونډی د ده په ديوال باندي دلرګي له ښودلو نه منع کوي .
15- مازال جبريل يوصيني باالجار حتى ظننت انه سيورثه (بخاري)
ژباړه :دګاونډي په هکله ماته جبرائيل دومره وينا وکړه چې آن ګمان مې وکړچې ګاونډی به زما وارث (ميراث خور) کړي .
16- والله لايؤمن والله لايؤمن قيل ومن يا رسول الله !قال الذي لايأمن جاره بوائقه (بخاري)
ژباړه : په خدای سوګند هغه سړی ايمان درلودونکی نه دی , په خدای لوړه هغه سړی ايمان درلودونکی نه دی ورځخه وپوښتل شول چې څوك ای رسول الله ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : هغه څوك چې دهغه له ضررونو څخه دهغه ګاونډي بې غمه نه وي .
17-من کان يؤمن بالله واليوم الآخرفلا يؤذجاره (بخاري)
ژباړه :څوك چې په خدای او دآخيرت په ورځ ايمان لري نو هغه دې ګاونډي ته ربړ يا تکليف نه رسوي .
18-لا تحقرن جارة لجارتها ولو فرسن شاة (بخاري)
ژباړه :هيڅ يوه ګاونډۍ ښځه دې خپلې بلې ګاونډۍ ته د وُزې

دېښي په ډالۍ کولو کې نه شرمیږي .
19 -اذا طبخت مرقة فاکثر ماءها وتعاهد جیرانك (مسلم )
ژباړه :کله چې ته شوروا پخه کړې نو اوبه یې ډیرې کړه او دخپل ګاونډي خیال ساته .

## -6 حلاله ګټه :

20-یأتي علی الناس زمان لایبالي المرء ماخذ منه ا من الحلال ام من الحرام (بخاري)
ژباړه :په خلکو باندې داسې زمانه هم راتلونکې ده چې سړی به هیڅ فکر نه کوي چې داشی ده ته له روا لاري لاس ته ورغلی که له حرامې لاري .
21- ان الله طیب لایقبل الله الا الطیب ,وان الله امر المؤمنین بما امر به المرسلین فقال یایهاالرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا وقال تعالی یایها الذین آمنوا کلوا من الطیبات ما رزقناکم ثم ذکر الرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمد یدیه الی السماءیا رب یا رب ومطعمه حرام و ملبسه حرام وغذي بالحرام فانی یستجلب لذلك (مسلم )
ژباړه :الله تعالی سپیڅلی دی اوسپیڅلتیا خوښوي ,الله تعالی مسلمانانو ته هم دهغه څه حکم کړی دکوم څه حکم چې یې رسولانو ته کړی وو ,الله تعالی فرمایلي : ای رسولانو پاك شیان خورئ او ښه عملونه کوئ ,او فرمایلي یې دي : ای مسلمانانو :هغه څه چې مونږ تاسې ته درکړي له هغوی نه حلال شیان خورئ ,له هغه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم دیوه داسې چا ذکر وکړ چې لوی سفر کوي ,پریشان حاله وي ,په ګرد لړلي دواړه لاسونه داسمان لور ته پورته کوي او وایي ای پالونکې ! ای پالونکې ! لیکن

دهغه خوراك ,څښاك ,لباس او غذا هرڅه حرام وي , نو دهغه دعا به خاوري قبوله شي ؟
22-من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الاالطيب فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبها كما يربي احدكم فلوه حتى تكون مثل الجبل (بخاري)
ژباړه :څوك چي له حلالي ګټي ديوې خُرما په پرتله صدقه ورکړي او الله تعالی خو حلال قبلوي , او خدای جل جلاله هغه صدقه پخپل ښي لاس قبلوي ,او دمال دڅښتن لپاره يې داسې پالي لکه له تاسې نه چې څوك سخوندر پالي تر دې چې (خدای جل جلاله دهغې صدقې اجر ) دغره برابرکړي .
23-طلب كسب الحلال فريضة بعد الفريضة (شعب الايمان )
ژباړه : (له نورو ) فرايضو وروسته دحلال رزق لټه فرض ده .

## 7-ښندنه او قرباني :

24-رباط يوم في سبيل الله خير من الدنيا وما عليها (بخاري)
ژباړه :دخدای جل جلاله په لاره کې يوه شپه پهره داري کول تر ټولې نړۍ او دهغې له ټولو سامانونو نه غوره دي .
25-ابني هذا سيدولعل الله ان يصلح به بين فئتين من المسلمين (بخاري)
ژباړه :زما دا ځوی (حسن رضي الله عنه ) سردار دی , ليرې نه ده چې لوی خدای د ده په لاس دمسلمانانو ددوو لويو غورځلو تر منځ سوله راولي .
26-اماطة الاذى عن الطريق (بخاري)
ژباړه : (دايمان تر ټولو وړه درجه) له لارې نه دربړوونکو څيزونو لرې کول دي .

## 8-استقلال :

27-ادومه وان قل (بخاري)
ژباړه : (دخدای جل جلاله ) په نزد هغه کار ترټولو ډير غوره دی
چې لږ وي خو تل وي .
28-مه عليکم بما تطيقونفو الله لايمل الله حتی تملوا وکان احب الدين
اليه ما داوم عليه صاحبه (بخاري)
ژباړه : پر تاسي اړينه ده چې له خپل ځواك سره سم كار وكړئ ,
په الله تعالی لوړه ده چې خدای جل جلاله نه ستړی کيږي( (داجر
په ورکولو کې) تر څو تاسې ستړي نه شئ .
29-قل آمنت با الله ثم استقم (مسلم )
ژباړه : ووايه چې ما په خدای ايمان راوړی او بيا (پخپله دې
خبرې ) ټينګ اوسيږه .

## 9-يووالی :

30- مااتا عليه واصحابي (حاكم)
ژباړه: (جنتي ) هغه دی چې زما او زما دملګرو په لاره عمل کوي
.
31- من فارق الجماعة شِبرا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه
(ابوداود)
ژباړه : څوك چې ديوې لويشتې په پرتله له خپلي ټولی نه جلا شي
نو ګواکې هغه له خپلي غاړې نه داسلام کړی لرې کړه .
32-انه سيكون هنات وهنات فمن اراد ان يفرق امر هذه الامة وهي
جميع فاضربوه باالسيف كائنا من كان (مسلم)
ژباړه : ډير نژدې به شر او فساد جوړ شي نو که څوك وغواړي

چې پدې امت کې جلالوالی راولي حال دا چې امت سره يوځای وي نو هغه ووژنئ لکه هغه هر څوك وي .

## 10-دکينې بدوالی :

33-ولا تحاسدوا .
ژباړه : او پخپل منځ کې کينه مه سره کوئ .
34- دب اليكم داءالامم قبلكم الحسدوالبغضاء هي الحالقة لا اقول تحلقوا الشعر ولكن تحلقواالدين (ترمذي)
ژباړه : په تاسې کې به هغه ناروغي راشي کومه چې په پخوانيو خلکو کې وه , يعني کينه او بغض ,دا خرييونکي ده , زه دا نه وايم چې هغه ويښتان خريي بلکه هغه دين له منځه وړي .
35 -اياكم والحسد فان الحسد يأكل الحسنات كما تأكل النار الحطب (ابو داود)
ژباړه : له کينې نه ډډه وکړئ ,ځکه چې کينه نيکي داسې خوري لکه اور چې لرګي خوري .

## 11-له مور پلار سره چلند:

36-الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين (بخاري )
ژباړه :لويې لويې ګناوې دادي : له الله تعالی سره شريك نيول ,او دمور پلار نافرماني کول .
37-ولا تعقن والديك وان امراك ان تخرج من اهلك ومالك (مسند احمد)
ژباړه :او دخپل مور پلار دامر سرغړونه مه کوئ که څه هم هغه تاسې ته ووايي چې له خپل اهل او عيال او شتمنی نه لرې شه .

## 12-له خپلوانو سره چلند:

38- من احب ان يبسط له في رزقه وينسأله في اثره فليصل رحمه (بخاري)
ژباړه : كه څوك دعمرزياتوالى اودرزق فراخي غواړي نو له خپلوانو سره دې ښيګڼې كوي .
39- لا تنزل الرحمة على قوم فيهم قاطع رحم (شعب الايمان )
ژباړه : په هغه قوم رحمت نه راښكته كيږي په چا كې چې خپلوي پريښودونكى موجودوي .
40 -لا يدخل الجنة منان ولاعاق ولامدمن خمر (نسائي)
ژباړه : احسان باروونكى ,او دمور پلار نافرماني كوونكى , او شراب څښونكى دا درې واړه به جنت ته نه ځي .

**د ګاونډيانو حقوق : الحاج فضل الله رشتين**
**نېټه :** پنجشنبه، 23 غويى 1389،
**موضوع :** اسلامې ليكنې

د ګاونډيانو حقوق : الحاج فضل الله رشتين
څرنګه چې خپل خپلوان په سړي حقوق لري همداشان يې ګاونډيان هم لري . د ګاونډيانو د حقوقو پر ځاى كول او د هغو احترام كول د آخرت په ورځ د ايمان لرونكو عملي ثبوت ګڼل كيږي. خداى پاك په قرآن پاك كښې فرمايي:
)و الجار ذي القربى و الجار الجنب و الصاحب بالجنب) ( النساء 36 )

او د الله حکم دی چې له قرابت لرونکی همسایه او له پردی همسایه او په څوا کې له همسایه سره نیکي وکړئ
د پورتني آیت څخه دا مانا لاس ته راځي چې که همسایه خپلوان وي او که پردی وي ، که غیر مسلمان وي او که هر څوك وي هغه همسایه دی او د همسایه په حیث باید د همسایه حقوق مراعات شي.
همسایه که مسلمان وي او که غیر مسلمان وي ، د دواړو حقوق برابر دي
که کاونډی د سړي خپلوان وي او مسلمان وي نو هغه درې حقونه لري : د کاونډیتوب حق ، د خپلوئ حق او د اسلام حق .
که ګاونډی مسلمان وي او د خپلوئ رشته ورسره نه وي نو هغه دوه حقونه لري: یو د ګاونډیتوب حق او بل د اسلام حق. او که ګاونډی د سړي خپلوان نه وي او غیر مسلم وي نو هغه یو حق لري چې هغه د ګاونډیتوب حق دی.
د ګاونډي عزت کول د ایمان جزء ګڼل کیږي. که څوك د ایمان خاوند وي نو هغه به خامخا د همسایه عزت او احترام کوي .
د حضرت محمد ( ص ) ارشاد دی:
په خدای قسم دی چې هغه مومن نه دی ، په خدای قسم دی چې ه غه مومن نه دی. صحابه کرام وپوښتل چې یا رسول الله هغه څوك دی ؟ رسول اکرم (ص ) و فرمایل : " هغه څوك چې همسایه یې له ظلم څخه محفوظ نه وي ." ( بخاري(
رسول اکرم (ص ) همداشان فرمایلي دي : " هغه څوك چې په خدای او آخرت ایمان لري هغه باید د همسایه عزت ولکړي" ( بخاري (
ډیر خلك دي چې د کاونډیانو سره ښه چلند نه کوي ، د هغوي

حقوق تر پښو لاندې کوي ، تل ورسره په جګړه بوخت وي او په قول او عمل کښې ورته اذيت رسوي .دا کار د خدای پاك له رضا سره مخالف کار دی او ښايي چې سړی ورڅخه ځان وژغوري .

د ګاونډيانو د حقوقو د پرځای کولو او د هغوي د احترام کولو د پاره دا لاندنۍ يادونې اړينې دي.

*د ګاونډي احترام کول.

*ګاونډي ته تاوان نه رسول.

*دګاونډي په غم او ښادۍ کې ځان شريکول.

*له ګاونډي سره ښه ګذاره او چلند کول .

*له ګاونډي سره له رحم او ترحم څخه کار اخستل.

*په ګاونډي باندې له ظلم زياتې څخه ځان ساتل.

*له ګاونډي سره د ګاونډي په حيث ښه سلوك کول.

*په ګاونډي باندې ځان لوړنه ګڼل.

*د ګاونډي عزت کول .

*د ګاونډي له ناروغتيا څخه ځان خبرول.

*له ګاونډي سره د هغه د ستونزو په حل کښې له خپل توان سره سم مرسته او همکاري کول.

*له ګاونډي سره په ورين تندي خبرې کول.

*ګاونډي ته د قربانۍ دغوښې برخه ورکول.

*ګاونډي ته په بيلا بيلو مناسباتو کښې د تحفو ورکول چې له دې سره د ګاونډيانو تر منځ مينه محبت زياتيږي.

*له خپل پخلي نه ګاونډي ته يو څه خواړه لیږل.

*د خپل توان سره سم له کاونډي سره مالي مرسته کول.

په درناوي
الحاج فضل الله رشتين